# د ۸ صبح


د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېرى

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۱۸ مه ګڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۲مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ









عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

## د افغانستان او ایران ترمنځ وسپنلاره، وغځېده!

## پر دغه لاره به کال کې یو مېلیون وګړي او لس میلیونه ټنه مال ځي او راځي.

## افغانستان کولای شي، په دې وسپنلاره، ایران- ترکیه او ور وړاندې اروپا ته، خپلې میوې، صنعتي بوټي او نور توکي ورسوي.

۸ صبح
دپرون روایت | دنن هېنداره | دسبا زېری




# سرکرښې

## ترور، د تاریخ نامردي!

نن یې، ملالۍ میوند، د تورو خاورو کړه!
تر دې دمخه یې الیاس داعي، په غاښو وچیچه!! لا ترمخه یې یما سیاوش، په شنه ځوانۍ کې ختم کړ!!!
ترهګریزې پالیسۍ، اصلا د افغان انسان په ذهن و روان، داړې خښې کړي او د انسانیت مجموعي دښمنه ده!
دا څه کیسه ده!؟ دا چا جوړه کړې!؟ څوک یې لوبغاړي دي!؟ اخر څه غواړي؟ د خلکو په ژوند و فکر و چلند د چا څه کار!؟
د معلوماتو له مخې، په تېرو ۱۹ کلنو کې (۱۳۳) خبریالان، د ترهګرۍ د اژدها خوراک شوي دي.
ترور، د انسان د مغزو، زړه اختراع ده! خو ترهګر- هغه که دې هر دین و باور، فکر و ایدیالوجۍ، تاج پر سر تړلی وي؛ له دې کړنې څه غواړي؟
ښایي ووایې، ناروا له منځه وړم! ظالم ختموم!! تیارې ختموم!!! او داسې نور. نو راځئ دا ووایو، چې دا کړنې څه اغېز و څه پایله رامنځته کوي؟
ترور، هغه که د هرچا لخوا وي او هغه یې که په هر هدف سرته رسوي؛ لویه لاسته راوړنه یې، د ډله ییز امنیت وژل دي! ترور- حتا له عامو وګړو، ښاریانو، کسبګرو، زدکړیالانو...راوني امنیت اخلي او د هر یوه پر سر د «داموکلس توره» را ځړوي!!
دولت د اساسي قانون، د بیان د آزادۍ قانون او بیا اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون موظف کړی، چې ولسي باور او ذهنیت د رواني جنګ له تیارو راوباسي او هغوي د رڼو، دقیقو او مستندو حقایقو په لمر کې کښینوي.
ځکه نو دولت ته په کار ده- په هره بیعه چې کېږي- ددغو پېښو ریښې پیدا او په پوره جرآت یې له ولس سره شریکې کړي!
دې لپاره دولت ته په کار ده، چې خپل ټول استخباراتي او پولیسي ځواک د ترور د روان فصل پر ضد منسجم کړي. دغه جګړه وړوکې بربښي؛ خو آغیز یې د لویو لویو میدانونو له وړلو اوچت دی. که دولت دا روښانه کړای شوه، چې ددغو پېښو سر چېرې تللی، نو بې له شکه، چې ټولنیز باور به را ژوندی شي او ولس به دا ومني، چې دغه نیمګړې ماته ګوډه ولسواکي، تر هر سیستم او حاکمیته، بختوره ده.
ترهګري، که په هر ذهني یا اقتصادي- ټولنیز هدف تر سره کېږي؛ ټولنه وژني او دا د تاریخ لویه نامردي ده.
بله خبره: هغه ځواک او هغه خدای بنده، چې د یوې خبریالۍ یا خبریال د آواز له اورېدلو په زړه مري، نو پوه شه، چې دنیا یې ورانه ده او اخرت کې هم بیکسه دی!

# لیکلړ

افغان خبریاله ملالۍ میوند ووژل شوه ........ ۱
د ملـي روغـې جوړې عالي شورا کار پیل کړ ........ ۲
ولې باید «اوربند» د آجنډا لومړنی موضوع وي؟ ........ ٤
د دولت او طالبانو پر وړاندیزونو بحث وشو ........ ٦
ګل ګل ماشومان او د جومات زده کړې ........ ۷
د پوهنې وزارت له خبرپاڼې غلط اخېستنون! ........ ۸
د افغانستان لومړنی جنراله مړه شوه ........ ۹
لنډۍ ........ ۱۰
مریدنامه ........ ۱۱
د کـورونا مدیـریت؛ د ولسمشر لومړیتوب ........ ۱۲
افغانستان او کورونا ویروس ........ ۱۳
د بېوزلۍ کچه ٦ سلنه کمه شوې! ........ ۱٤
د کـنـدهار په دریـیو ولسوالیو کې د خرما بـاغـونـه جـوړېـږي ........ ۱۵
په پکـتـیا کـې د ښځـو پـر وړاندې د تاوتریخوالي دوام ........ ۱٦
په ننګرهار کې مېرمنو ته د پورونو ورکړه ........ ۱۷
د دوی کیسې، د دوی ننګوني، د دوی ژوند ........ ۱۸
په ننګرهار کې د ۱۷ کلبونو ترمنځ ازادې رزمي سیالۍ تـرسـره شـوې ........ ۲۰

د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# افغان خبریاله

# ملالۍ میوند ووژل شوه



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

◆ **م. ظ. صمیم**

د ننګرهار ولایت ځایي چارواکي وایي چې ددغه ولایت په مرکز جلال اباد ښار کې، د انعکاس تلوېزون خبریاله ملاله میوند، د پنجشنبې په سهار دفتر، ته د تلو پر مهال ووژل شوه.

د ننګرهار د والي ویاند عطاالله خوګیاڼي ددې خبر په تاییدولو سره ویلي چې ملاله میوند، پر خبریالۍ سربېره مدني فعاله هم وه.

همداراز ملاله میوند د کرېکټ مبصره هم وه او د افغان کرېکټ لوبډلې پر سیالیو به یې تبصرې کولې.

نوموړې په تېرو شپږیزه لیګ سیالیو کې لومړنۍ خبریاله وه چې د لوبو ډګر کې یې نندارچیانو ته پر لوبو تبصرې کولې.

د افغانستان د خبریالانو لپاره په نړۍ کې خطرناک او ناامن هېواد بلل شوی دی.

**په تېره کابو یوه میاشت کې دا د رسنیو درېیم غړی دی چې وژل کېږي.**

له دې مخکې د نومبر په لومړیو ورځو کې د طلوع تلویزیون پخواني ویاند یما سیاووش او له هغې وروسته د دغې میاشتې په دوولسمه په هلمند کې د آزادی راډیو خبریال الیاس داعي، موټرونه په چسپکي بمونو والوزول شول، او ژوند یې له لاسه ورکړ.

د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې هغه مهال ویلي ؤ چې په افغانستان کې سږ کال د الیاس داعي په ګډون شپږ خبریالان وژل شوي، خو د ملالې میوند په وژل کېدو سره دا په روان کال کې د وژل شویو خبریالانو شمېر اوو تنو ته ورسېد.

**د دغې ادارې په وینا په افغانستان کې په تېرو ۱۹ کلونو کې ۱۳۳ خبریالان وژل شوي او زیات شمېر نور ټپیان شوي دي.**

۱ ۸صبح پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۱۸مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۲مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

# د ملي روغې جوړې عالي شورا کار پیل کړ



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې لومړۍ ناسته په ارګ کې جوړه شوه. په دغه ناسته کې پر ولسمشر محمد اشرف غني او د ملي روغې جوړې د عالي شورا پر رئیس عبدالله عبدالله سربېره، پخواني ولسمشر حامدکرزي، عبدالرب رسول سیاف، محمدکریم خلیلي، محمد محقق، محمدیونس قانوني، عطامحمد نور، اسماعیل خان، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې رئیسانو، د کابینې غړو، د مدني ټولنې استازو او یو شمیر سیاسي شخصیتونو ګډون کړی و. خو په دغه ناسته کې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار او د جمعیت اسلامي مشر صلاح الدین رباني ګډون نه و کړی. په ناسته کې ځینو سیاسي شخصیتونو ووېل چې تراوسه هم د شورا غړي نه دي بشپړ شوي او اړتیا ده چې یو شمېر نورو شخصیتونو ته چې د سولې په برخه کې یې هڅې کړي بلنه ورکړل شي.

ولسمشر غني په دغه ناسته کې د سولې په تړاو د دوامداره مشورې پر اړتیا ټینګار وکړ او وې وویل چې په ارګ کې د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې د غړو ناسته سیمې، نړۍ او په تېره بیا د دولت مرکچي پلاویو ته خرګند پیغام لري.

هغه دوهم پړاو ته د مذاکراتو د تلو خبر ورکړ او د مرکچي پلاوي د هڅو ستاینه یې وکړه. نوموړي زیاته کړه چې د سولې په لاره کې یوالې اړین دی او تلپاتې سولې ته د رسېدو په موخه باید د لارې پر نقشې کار وشي.

ولسمشر غني د سولې په بهیر کې رامنځته شوی وضعیت په یو وخت هم فرصت او هم خطر وباله او وې ویل چې له دې وضعیته استفاده ملي یوالي ته اړتیا لري او په دې برخه کې غوره مدیریت ډېر اړین دی.

**د ولسمشر په وینا، جمهوري نظام د ټولو افغانانو دی او په کوم خاص وګړي پورې اړه نه لري او د سولې بهیر باید په داسې تنظیم شوی چوکاټ کې پر مخ ولاړ شي چې د جمهوریت د دوام لامل شي.**

ولسمشر له سولې وروسته شرایطو ته په اشارې سره وویل چې عملي کول یې ډېر اړین دي. د ولسمشر په وینا داسې هبواد چې نوی سلنه وګړي یې د ورځې په کابو دوه ډالره عوایدو سره ژوند کوي؛ څرنګه کېدای شي چې سوله پکې عملي کړو! محمد اشرف غني زیاته کړه چې حکومت تاریخي مسوولیت لري، دولتي بنسټونه داسې پیاوړي کړي چې سوله تطبیق شي، ځکه دا کار د بې کفایته ادارو له لوري نه شي کېدای. هغه وویل چې نور نو د نړۍ پر مرستو تکیه نه شو کولی؛ نو بایده دي چې متې راونغاړو او ځان بسیاینې ته ورسېږو، د خدای په فضل هېواد مو پراخې

اقتصادي سرچينې او زېرمې لري؛ خو سمون او مدیریت یې اړین دی.

**ولسمشر وویل چې د سولې لپاره د خلکو هوډ، ژمنه او اراده بېساري ده او سوله غواړي، دا د حکومت دنده ده چې سوله راولي.**

ولسمشر غني زیاته کړه افغانان، سمتي، تنظیمي او قومي نه؛ بلکې ملي سوله غواړي او له خلکو غواړي چې په دې برخه کې د دولت ملاتړ وکړي. ولسمشر وویل چې دولت او اولس د سولې لپاره خپله اراده ښودلې، اوس اړتیا ده چې طالبان هم خپله سیاسي اراده وښيي. هغه د سولې د عملي کولو لپاره سیمه ییزه اجماع هم مهمه وبلله.

اخوا د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئیس عبدالله عبدالله په دغه ناسته کې، ددې شورا د مشرتابه کمیټې د کار پیلېدل، د ملي اجماع د پیاوړتیا لپاره اغېزمن وبلل. هغه زیاته کړه چې مرکچي پلاوی د سولې د مذاکراتو د دوام لپاره، ددغې شورا لارښوونو ته اړتیا لري.

عبدالله وویل چې له دې وروسته به د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټه په منظمه او هدفمنه توګه غونډې کوي. د نوموړې په وینا د سیاسي ګوندونو مشران او د مدني ټولنې غړي ددې شورا غړي دي چې د ټولنې له بېلابېلو پرګنو سره د سولې بهیر په اړه خبرې شوې دي.

**عبدالله زیاته کړه چې له سیاسي مشرانو څخه یوازې ګلبدین حکمتیار او صلاح الدین رباني په شورا کې خپل غړیتوب نه دی منلی، خو دوی منلې چې د سولې په بهیر کې به له دغې شورا سره همکاري کوي.**

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئیس ټینګار وکړ چې افغانان د باعزته، تلپاتې او سراسري سولې او د تېرو څو کلونو د لاس ته راوړنو د خوندیتوب غوښتونکي دي چې دا شورا هم دغو موخو ته د رسېدو لپاره ژمنتیا لري. د هغه په وینا په دې پړاو کې خلک د اوربند او د دښمنۍ د پای ته رسولو غوښتونکي دي، ځکه تاوتریخوالی سولې ته د رسېدو خنډ دی او په خلکو کې د نهیلۍ لامل کېږي.

عبدالله عبدالله زیاته کړه: «**د یوې اړتیا په توګه به د جګړې د ختمولو لپاره خپلې ټولې هلې ځلې کوو، په داسې حال کې چې حکومت خپلې دندې ترسره کوي، موږ ژمنه کوو چې په ورځنیو حکومتي چارو کې له لاسوهنې پرته، یوازې د افغانانو ددغه لوی هدف لپاره کار کوو.**»

نښاغلي عبدالله نړیوالې او سیمه ییزې اجماع ته اشاره وکړه او وې ویل چې افغانستان سولې او ټیکاو ته د رسېدو لپاره له تلپاتې سولې، پرمختګ او سیاسي ثباته د ملاتړ لپاره نړیوالې اجماع ته اړتیا لري. هغه زیاته کړه د سولې لپاره د نړیوالې اجماع په موخه یې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو ته سفرونه وکړل او دوی هم د افغان حکومت په مشرۍ د سولې له بهیره ملاتړ اعلان کړی دی.

هغه د حکومت له مرکچي پلاوي څخه هم مننه وکړه او وې ویل چې دغه پلاوي ثابته کړه چې سولې او د افغانانو ګټو ته د رسېدو لپاره په واقعي توګه ژمن دي.

پخواني ولسمشر حامد کرزي په دغه ناسته کې وویل چې سوله د افغانانو یوازینۍ هیله ده او د سولې راوستل د هېوادوالو په تېره بیا سیاستوالانو دیني او انساني مسوولیت دی. هغه زیاته کړه چې باید په هېواد کې افغان وژنه پای ته ورسېږي او سیاسي مشران په او یوالي سره د سولې بهیر بري ته ورسوي.

**کرزي د ملي روغې جوړې شورا نیمګړې وبلله او وې ویل چې ځینې نورې پېژندل شوې څېرې هم باید دغې شورا ته وروبلل شي.**

له بلې خوا، جهادي مشر عبدرب الرسول سیاف د حکومت له مشرانو وغوښتل چې د سولې د راوستو لپاره خپل یوالي وساتي. هغه ټینګار وکړ چې دولت باید له خلکو سره نږدې شي او د سولې په بهیر کې په ګډه او په یوالي سره عمل وکړي. **استاد سیاف جوته کړه دولت له طالبانو ډلې زیات سولې ته اړتیا لري؛ نو باید دا یو دیني او انساني مسوولیت وګڼي.**

د پخواني ولسمشر مرستیال محمد یونس قانوني هم وویل چې په دغه ناسته کې د ځینو شخصیتونو ځای تش دی او باید د شورا جوړښت بشپړ شي. دا په داسې حال کې دي چې له دې مخکې **ولسمشر د ملي روغې جوړې په عالي شورا کې د ځینو شخصیتونو، له هغې ډلې د رحمت الله نبیل، فرخندې زهرا نادري او سید اسحاق ګیلاني له غړیتوب سره مخالفت کړی دی.**

قانوني د سولې بهیر مهم او جدي وباله او له ولسمشر غني او عبدالله عبدالله څخه یې وغوښتل چې د سولې بهیر له دوو ټاکنیزو ډلو بهر کړي. هغه وویل چې سوله مهمه مسئله ده او یوازې د دولت او د ملي روغې جوړې د عالي شورا کار نه دی او باید په خلکو پورې اړه ولري.

همدارنګه **د ولسمشر پخواني مرستیال محمد کریم خلیلي هم د دولت د مرکچي پلاوي د هڅو ستاینه وکړه او وې ویل چې په یوالي سره تلپاتې سولې ته رسېدای شو.**

جهادي قوماندان محمد اسماعیل خان هم په دغه ناسته کې وویل په هغه صورت کې چې پر سوله باور موجود وي رسېدل ورته ناشوني نه دي، هغه اوسنی فرصت تاریخي وباله او پر یوالي او یوالي یې ټینګار وکړ.

**د یوالي ګوند مشر محمد محقق د سولې په مذاکراتو کې له پرمختګونو هرکلی وکړ او وې ویل چې باید په دې برخه کې احساساتي عمل ونه شي. هغه د لاس ته راوړنو پر خوندیتوب ټینګار وکړ.**

**د اسلامي جمعیت اجرایي رئیس عطامحمد نور په دغه ناسته کې، د دولت د مرکچي پلاوي د هڅو ستاینه وکړه او د لاس ته راوړنو، بنسټونو، عمومي تاسیساتو او امنیتي بنسټونو پر خوندیتوب یې ټینګار وکړ.**

د هېواد د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر په دغه ناسته کې وویل چې افغانان باید د سولې په بهیر او د ملي اجماع په جوړولو کې اساسي رول ولوبوي. هغه زیاته کړه چې د دولت موخه باعزته او تلپاتې سوله ده.

د یادونې وړ ده چې د ملي روغې جوړې عالي شورا سولې بهیر مدیریت کوي او مرکچي پلاوی د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې په لارښوونه عمل کوي.

# ولې باید «اوربند» د آجنډا لومړنی موضوع وي؟



◆ لیکنه: وحید پیمان
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

قطر تـه د سفر پـه ترڅ کې، د حکومت او طالبانـو مرکچي پلاویو سـره پـه ګنـو لیدنـو کـې مـې دا پوښـتنه مطـرح کـړه چـې آیـا د سولې خبرواتـرو پـه لـړ کـې بـه دواړه خـواوې پـه یـو جامـع اوربنـد هوکـړه وکـړي؟ د حکومـت لـوري ټینـګار درلـود چـې دا موضـوع بـه پخپلـه آجنـډا کـې، د لومړنـۍ غوښـتنې پـه توګـه درج کـړي؛ خـو د طالبانـو پلـو بیـا ټینـګار درلـود چـې اوربنـد بـه د سـولې خبـرو اتـرو یـوه آجنـډا وي!

د حکومـت او طالبانـو لـه مرکچـي پلاویـو د ټولـو هیلـه داده چـې اوربنـد د دوی ترمنـځ د سـولې مذاکراتـو لومړنـۍ آجنـډا واوسـي. خـو واقعیـت دادی چـې تـر دې دمـه د افغـان دولـت لپـاره اوربنـد، د غوښـتنو د لېسـت پـه لومړي سـر کـې ځـای لـري او دغـه مـورد بیـا د طالبانـو لپـاره د لېسـت پـه پـای کـې دی.

د حکومـت سـتراتېژي داده چـې د اوربنـد پـه ټینګېـدو لـه طالبانـو سـره ډیپلوماتیـکو خبرواتـرو تـه دننـه شـي او پـه ټـول کـې طالبـان دې تـه اړ کـړي چـې حکومتـي جوړښـت تـه داخـل شـي؛ خـو د طالبانـو ښـکاره سـتراتېژي داده چـې د جګـړې پـه ډګـر کـې، د جګـړې پـه ډېرېـدو سـره، د مذاکراتـو پـر مېـز خپلـې ګټـې خونـدي کـړي. د حکومـت سـتراتیژي د عامـه افکارو او نړیوالـې ټولنـې لـه لـوري پـه طبیعـي توګـه ډېـر پېرودونکـي لـري. خـو پوښـتنه داده چـې د طالبانـو سـتراتېژي تـر کومـې اندازې پـه دوحـه کـې، د نـوي رامنځتـه شـوي کړنـلارې او طرزالعمـل سـره پـه ټکـر کـې ده؟ آیـا نـړۍ د سـولې لـه هغـو خبرواتـرو ملاتـړ کـوي چـې اوربنـد لـه ځـان سـره لـري او کـه لـه هغـو مذاکراتـو چـې تاوتریخوالـی لـه ځـان سـره لـري؟

دمگړی، په نړۍ سربېره، افغانان هم په دوه لارې کې دي؛ هغوی له دوو احتمالي راتلونکو سره مخ کېدونکي دي؛ جګړه او نه پای ته رسېدونکی تاوتریخوالی، یا هم د تلپاتې سولې په لور سوکه پرمختګ.

تر دې دمه په افغانستان کې د جګړې لا زیاتېدل، د جګړو د ښکېلو خواوو ترمنځ او په ځانګړې توګه د طالبانو په وینا او چلند کې څرګند درز ښکاره کوي. په داسې حال کې چې دواړه خواوې د سولې خبرې کوي؛ خو د جګړې په ډګر کې د یو او بل پر وړاندې جنګېږي. هغه جګړه چې دې ته په کتو سره چې حکومت بیا بیا پکې د اوربند غوښتنه کړې، خو په عامه افکارو کې بیا هم انګېرل کېږي چې طالبان به تاوتریخوالي ته دوام ورکړي.

د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۲۳مه د ملګروملتونو عمومي سرمنشي آنتونیو ګوترش د نړیوال اوربند غوښتونکی شو چې غړو هېوادونو ته اجازه ورکړي له کورونا ویروس سره د مبارزې ته پاملرنه زیاته کړي. د افغانستان په ګډون شاوخوا ۷۰ هېوادونو ددې وړاندیز ملاتړ وکړ.

پر دې سربېره د افغانستان ګڼ شمېر ګاونډي هېوادونه هم په افغانستان کې د اوربند غوښتونکي شول. ایران د یوې بیانیې په خپرولو، د ملګروملتونو د غوښتنې په اساس، په افغانستان کې د اوربند غوښتنه وکړه. ایران په افغانستان کې د طالبانو په ګډون د جګړې له دواړو غاړو سره، دوه اړخیزې او نږدې اړیکې لري.

**په همدې ترتیب، چین له ټولو خواوو وغوښتل چې د «د ملګروملتونو د عمومي سرمنشي نوښت او نړیوالې ټولنې هیلې ته ځواب ورکړي او مخامخ جګړه ودروي او هېواد او خلکو ته لومړیتوب ورکړي».**

**اروپایي ټولنې هم د ملګروملتونو عمومي سرمنشي له غوښتنې سره جوخت د یوې بیانیې په صادرولو سره د چټک او بشردوستانه اوربند غوښتنه وکړه. هغه ټولنه چې د افغانستان په بیارغونه کې اساسي رول لري او دوام یې د هېواد د ثبات لپاره مهم دی.**

**همدارنګه د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان (OIC) هم د «د فوري او تلپاتې اوربند» غوښتونکی شو.** د (OIC) هېوادونو سیاسي ملاتړ او په ځانګړې ډول د اسلام سپېڅلي دین د متولي په توګه د سعودي عربستان او د طالبانو د سیاسي دفتر د کوربه په توګه د قطر ملاتړ، د اوربند د ټیکاو لپاره ځانګړې اهمیت لري.

طالبانو په تېرو وختونو کې د تاوتریخوالي درېدو، د اوربند ټینګښت او له افغان دولت سره د مخامخ خبرواترو لپاره د نړیوالې ټولنې ټولې غوښتنې، غونډې او فشارونه په آسانۍ سره رد کړي او جدي یې نه دي ګڼلي.

**طالبان اوس په ټوله مانا د څو کلونو پخوا طالبان نشي اوسېدلای. هغوی اوس په افغانستان کې پر عمومي افکارو سربېره، دمګړۍ د نړیوالې ټولنې له ډېرو فشارونو سره مخ دي. هغوی باید د سولې په مذاکراتو کې بریا ته د رسېدو لپاره، اوربند د خپلو پروګرامونو په لومړیتوبونو کې راولي.**

د نړیوالې ټولنې پر فشارونو سربېره، بسنه کوي چې طالبان د قطر د مذاکراتو کاري کړنلارې یا طرزالعمل ته ژمنتیا ولري. دغه ژمنه طالبان دې ته اړباسي چې اوربند وکړي، خو څنګه؟ د قطر په مذاکراتو کې د حکومت او طالبانو پلاویو هوکړه کړې چې د دوحې هوکړه لیک باید د خبرو بنسټ وي، د افغانانو غوښتنې په پام کې ونیول شي او همدارنګه د ملګروملتونو د پرېکړه لیک او د اړخونو ارادو ته درناوی وشي او په پام کې ونیول شي.

د دوحې له هوکړه لیک پرته چې د تاوتریخوالي پر کموالي ټینګار لري، درې نور موارد؛ د ملګروملتونو پرېکړه لیک، د افغانانو غوښتنې او لېترلږه د یوه لوري اراده؛ پر اوربند باندې ټینګار لري. د دوحې کړنلارې ته ژمنتیا دواړه لوري دې ته اړ کوي چې د ملګروملتونو پرېکړه لیک، د افغانانو غوښتنې او د یو او بل ارادې ته درناوی وکړي. دا درې واړه بهیرونه پر اوربند او د سولې مذاکراتو په ترسره کېدو ټینګار لري.

د جګړې دوام به د دوحې مذاکراتو له کړنلارې سره په بشپړه توګه په ټکر کې وي.

که طالبان جامع، سراسري او نامحدود اوربند ته حاضر نشي، نو د مذکراتو دوام به بې ګټې وي. په طبیعي توګه په هغه وضعیت کې چې تاوتریخوالی دوام ولري، نو د سولې مذاکرات به په هېڅ ډول هراړخیز ملاتړ خپل نکړي.

څرګند مثال یې د تاوتریخوالي د کموالي د اونۍ په لړ کې پایلې ته د مذاکراتو رسېدل ؤ. د تاوتریخوالي کموالی ددې سبب شو چې امریکا طالبان، د یوې تقریبا پوځي ډلې په توګه په رسمیت وپېژني او له هغوی سره یو لوی سیاسي تړون لاسلیک کړي. که طالبانو د تاوتریخوالي د کموالي پړاو خپلې ترهګریزې تګلارې ته دوام ورکړی وای، نو دا به لرې وه چې نسبي سیاسي مشروعیت پیدا کړي او یا امریکا ورسره د سولې رسمي تړون لاسلیک کړي؛ په دې معنی چې سیاسي غوښتنو ته رسېدل یوازې د خبرواترو له لارې شوني دي او هېڅ یوه ډله، د جګړې او زور له لارې بشپړې بریا ته نه ده رسېدلې.

که طالبان غواړي د افغانستان په سیاسي واک کې رول ولري، باید د یوې جګړه ییزې او جګړه غوښتونکې ډلې پړاو، د افغانستان په زیرکو سیاسي لوبغاړو واوړي.

اوس چې د افغانستان حکومت او له حکومت سره د همکارو هېوادونو له لوري، د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره ټول ګامونه پورته شوي دي، اړتیا ده چې طالبان هم خپله کړنه وښیي او یو جامع سیاسي هوکړه لیک ته د رسېدو لپاره، پر تلپاتې اوربند فکر وکړي.

دغه اوربند به د سولې مذاکراتو د بریالیتوب لپاره ترټولو غښتلی ملاتړ وي. پرته له دې به هېڅ له لوری د جګړې په دوام سره، د تلپاتې ثبات په لور اراده ونکړي.

پکار ده چې د حکومت مرکچي پلاوی د لومړنۍ آجنډا په توګه، طالبانو ته د اوربند وړاندیز وکړي. دې وړاندیز ته د طالبانو غبرګون، هم د مذاکراتو د دوام، هم د نړۍ او هم د افغانانو لپاره ځانګړې ارزښت لري.

# د دولت او طالبانو پر وړاندیزونو بحث وشو



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

د دوحې د مذاکراتو سرچینې وايي چې د دولت او طالبانو مرکچي پلاوېو خپل وړاندیزونه د بحث لپاره له یو بل سره شریک کړل.

دغو سرچینو ۸صبح ته وويل چې د طالبانو په وړاندیزي نوملړ کې کابو شل موضوعګانې د بحث لپاره د افغان دولت پلاوي ته وړاندې شوې دي.

ددغه نوملړ له مخې، هغه سیاسي نظام چې طالبانو يې د افغانستان د راتلونکي لپاره وړاندیز کړی له «دموکراتیک جمهوري» پرته یو «اسلامي نظام» دی.

طالبانو همداراز په هېواد کې د «دیني علماوو د سراسري شورا» د جوړېدو غوښتنه کړې ده.

په دغه لېست کې د طالبانو وړاندیز شوی ښوونیز نظام د «اسلامي معارف» په نوم یاد شوی دی.

**په همدې توګه دغې ډلې وړاندیز کړی چې د ښځو او نارینه وو حقوق، مسوولیتونه او آزادۍ د اسلامي شریعت په چوکاټ کې تعریف او وټاکل شي. د مطبوعاتو او رسنیو د آزادۍ په برخه کې ویل شوي چې د رسنیو د آزادۍ او فعالیتونو حدود باید د اسلامي احکامو پربنسټ وي.**

دا له دولتي پلاوي سره د بحث لپاره د طالب پلاوي د وړاندیز شویو موضوعګانو اصلي برخې دي.

دولتي پلاوي هم خپل وړاندیزونه له طالبانو سره شریک کړي دي.

**د دولت یو وړاندیز د «اوربند» مسله ده.**

**دولتي پلاوي همداراز وړاندیز کړی چې اوسنی «اسلامي جمهوري نظام» د اردو، پولیسو او اساسي قانون په شان بنسټونو سره خوندي پاتې شي.**

تراوسه د مذاکراتو لپاره د دواړو لوریو د وړاندیز شویو موضوعګانو لازیات جزیات نه دي روښانه شوي.

په همدې دلیل روښانه نه ده چې د «اسلامي نظام» د جوړښت لپاره د طالبانو وړاندیزي تګلاره څه ده او «د علماوو سراسري شورا» به په دغه نظام کې څه رول ولري.

له دې مخکې په دوحه کې ځینو سرچینو ۸صبح ته ویلي و چې د دواړو لوریو دریځونه ډېر سره لیرې دي او ښايي مذاکرات ډېر دوام وکړي.

د افغان دولت او طالبانو مرکچي پلاوېو په مذاکراتو کې د بحث وړ مسئلو د ټاکلو په اړه کار، د لیندۍ په څوارلسمه پیل کړی و.

د دواړو لوریو ترمنځ رسمي خبري کابو درې میاشتې مخکې د وږي میاشتې په ۲۲مه پیل شوې وې.

# ګل ګل ماشومان

## او د جومات زده کړې

◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظريف صميم

د پوهنې وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، جوماتونه به د پوهنې وزارت په تعلیمي ایکو سیستم کې شامل شي او په دې اساس به له لومړي تر درېیم ټولګیو زده کوونکي په جوماتونو کې زده کړه کوي.

دا وزارت وايي چې تازه بدلونونه يې په پوهنيز نظام کې د اسلام رول د بنسټیزه کولو په موخه دی او دغه مهم او لوی بدلون یو عاقلانه پروګرام ته اړتیا لري، چې پر بنسټ به یې دا بهیر په تدریجي ډول پلی شي.

د پوهنې وزارت زیاته کړې چې دوی په خپل جوړښت کې بدلون راوستی چې د ښوونې او روزنې په سیستم کې اسلام مرکزي ځای ولري.

دا وزارت باور لري چې د زده کړې په دریو لومړنیو کلونو کې، جومات ته د ماشومانو تګ به په هغوی کې یو پیاوړی اسلامي هویت روښانه او څرګند کړي.

دا په داسې حال کې دي چې د پوهنې وزارت څه موده مخکې د اسلامي تعلیماتو معینیت لغوه اعلان کړ چې یو لړ نیوکې یې راوپارولې.

اوس دا وزارت وايي چې د اسلامي تعلیماتو نوی عمومي ریاست، د صلاحیتونو او مسئولیتونو له پلوه بډایه شوی دی.

تر درېیم ټولګي په جوماتونو کې د زده کوونکو د زده کړو په اړه د پوهنې وزارت پرېکړه د چارواکو او عادي افغانانو له مثبتو او منفي غبرګونونو سره مخامخ شوې ده.

**له دغو غبرګونونو وروسته د پوهنې وزارت ویاندې رسنیو ته وویل چې دا پرېکړه یوازې په هغو سیمو کې عملي کېږي چې یا ښوونځي پکې نشته او یا هم ډېر لیرې دي**، له دې امله به ددغو لیرې پرتو سیمو زده کوونکي تر درېیم ټولګي پورې په جوماتونو کې زده کړه کوي چې د پوهنې وزارت تعلیمي نصاب به پر هغوی هم پلې کېږي.



# د پوهنې وزارت له خبرپاڼې غلط اخیستون!



◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

**دریا په یوه لیک کې له غني غوښتي چې جوماتونو ته د ښوونځیو لومړنیو ټولګیو د لېږدولو په اړه له سره غور وکړي!**

د هېواد وتلي سندرغاړي فرهاد دریا ولسمشر ته په یوه پرانېستي لیک کې غوښتنه کړې چې جوماتونو ته د ښوونځیو د لومړنیو ټولګیو د لېږد په اړه له سره غور وکړي.

پوهنې وزارت دوه ورځې وړاندې اعلان وکړ چې ددې بنسټ یوې نوې طرحې پر اساس، د ښوونځیو لومړی، دویم او درېیم ټولګي جوماتونو ته لېږدوي.

وروسته له دې چې دا طرح له غبرګونوو سره مخ شوه، دغه وزارت خپله موضوع واړوله او خپره کړې خبرپاڼه یې اصلاح کړه. **په ایډیټ شوې نسخې کې راغلي دي چې له لومړي تر درېیمو د هغو سیمو ټولګي جوماتونو ته لېږدول کېږي چې ښوونځي نلري.**

په ورته وخت کې فرهاد دریا ولسمشر ته په خپل لیک کې ویلي دي چې د افغانستان له اوسنیو خونړیو ناورینونو د وتلو ترټولو لویه لار، د ماشومانو ښوونه او روزنه ده.

نوموړي له ولسشمره غوښتي دي پرېنږدي چې سالمې راتلونکې ته د رسېدو لپاره دغه لویه هیله ترې واخیستل شي.

د هېواد دغه هنرمند ویلي دي چې ولسمشر له ټولو څخه ښه پوهېږي چې ډېری لرې پرتې سیمې او کلي ښوونځي نلري او د نظام د دښمنانو تر ولکې لاندې دي.

**نوموړي ویلي، په تکرار سره ثابت شوې چې د دولت له ولکې ډېرو لرې پرتو سیمو او کلیو کې د جوماتونو ډېر شمېر ملا امامان «د پاکستان له مشکوکو مدرسو» څخه فارغ او را استول کېږي.**

هغه همدارنګه لیکلي دي چې ډېر شمېر جوماتونه د لویو افراطي او د کرښې هغې غاړې روزل شویو وګړو د راټولېدو ځایونه دي.

دریا له ولسمشر څخه پوښتي چې څنګه کولی شو ډاډ ترلاسه کړو چې په دې درې کلونو کې به ماشومان د ښوونځي، پوهنې او معرفت ضد نه روزل کېږي؟

په دغه لیک کې له ولسمشره بله پوښتنه هم شوې ده: «**څنګه کولی شو ډاډه واوسو چې زموږ ماشومان به له دې لارې د پاکستان د ځان مرګي زېږوونکو مدرسو چلوونکو لخوا نه جذب کېږي او مغزونه یې نه وینځل کېږي؟ څه ضمانت شته چې په کلیوالي جوماتونو کې چې دولت هلته دومره واک هم نلري، زموږ له ماشومانو به جنسي ګټه نه پورته کېږي؟**»

فرهاد دریا ولسمشر غني ته په خطاب کې ویلي دي چې نوموړی د نړۍ په غوره عملي ځایونو کې د لوړې درجې پوهې د ترلاسه کولو امکانات لرلي دي او د افغان ماشومانو لپاره په خپل ذهن کې داسې هیله لري.

**دریا وایي چې یقین لري ولسمشر به «د خلکو د زړونو د ټوټو» برخلیک د دښمن لاس ته نه ورکوي.**

فرهاد دریا په پای کې له ولسمشره غوښتي چې مهرباني دې وکړي او ۳۵ میلیونه هېوادوالو ته دې غوږ کېږدي او ددغه تصمیم په اړه دې له سره غور وکړي.

دغه طرحه له پراخو غبرګونونو سره مخ شوې ده.

ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي دي چې د پوهنې په نظام او نصاب کې د پوهنې وزارت له طرحو ملاتړ کوي، خو ددې وزارت له نوې طرحې غلط اخیستون شوی دی.

# د افغانستان لومړنۍ جنراله مړه شوه



◆ د ۸صبح پښتو مجله
**ژباړه: محمد عزیز پردېس**

د عامې روغتیا وزارت مرستیال، د افغانستان د روغتیا وزارت د پخوانۍ وزیرې او لومړنۍ جنرالې، سهیلا صدیق پر مړینه خواشیني څرگنده کړه.

د عامې روغتیا وزارت د صحي خدماتو معین، وحید مجروح، د روان کال د لیندۍ په ۱۴مه، د جمعې په ورځ په خپل فیسبوک کې نوموړې «د افغانستان د طبي ټولنې او وسله والو ځواکونو تر ټولو ځلېدونکې څېره» یاده کړې ده.

ملي دفاع وزارت هم د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې سهیلا صدیق، د روان کال د لیندۍ په ۱۴مه، د کابل په وزیر محمد اکبر خان روغتون کې، د وریښښې ناورغۍ له امله مړه شوه. مېرمن صدیق، د ۱۳۲۷ کال د کب په ۲۰مه په کابل ښار کې دې نړۍ ته سترگې وغړولې.

مېرمن صدیق د ښوونځي زده کړې، د کابل ښار په ملالۍ لېسه کې او لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي او د مسکو نمبر (۱) طب دولتي انستیتوت کې بشپړې کړې وې.

مېرمن صدیق په کال ۱۳۵۴ کال کې، د روسیې له دولتي طب انستیتوت څخه د دوکتورا سند ترلاسه کړی و.

ملي دفاع وزارت وایي چې مېرمن جنرال صدیق، د خپلو زده کړو له بشپړولو وروسته، افغانستان ته ستنه شوه او د محمد داوود خان د واک په دوره کې یې، د طبي علومو اکاډمۍ په ۴۰۰ بستریز روغتون کې په کار پیل وکړ.

په همدې توگه سهیلا صدیق په ۱۳۵۷ کې د جراحې ډاکترې په توگه، د اردو مرکزي روغتون د «عملیات خونې سرویس شف» برخه کې خپل کار پیل کړ.

هغې همدارنگه، په کال ۱۳۷۲ ل.ل کې، د سردار محمد داوود خان روغتون کې د سرجراحې او په کال ۱۳۷۵ کې، د طبي علومو اکاډمۍ د قومندانې په توگه کار کړی دی.

د ملي دفاع وزارت د معلوماتو په اساس مېرمن جنرال صدیق، په کال ۱۳۸۱ ل.ل کې د عامې روغتیا وزیرې په توگه د کابینې غړې شوه او په کال ۱۳۸۴ کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د سلاکارې په توگه وگومارل شوه.

ملي دفاع وزارت ویلي دي چې مېرمن صدیق د عمومي جراحۍ متخصصه وه او ۴۰ کاله یې په ستونزمنو شرایطو کې خپلو خلکو او هېواد ته صادقانه خدمت وکړ.

# ادبي ورشو

## آزاد نظم

سوله ژوند ده!
یعنې، فهم د ژوندون دی
د بقا لپاره یون دی
پاتې کېږي سره زړونه
سوله ژوند ده!
نفرتونه د اوبو په یوه لپه
مړه کېږي د اورونو سکروټې
د یو اوړد مزل نه وروسته
دواړه زړونه له یو بل نه قربانېږي
سوله ژوند ده!
لکه زه او ته چې دواړه
موټې خلاصې کړو یو بل ته
د وصال خواړه په ګوتو کې راتاو کړو
وچو شونډو ته درانه درانه درمل شو
سوله ژوند ده!
د بېلتون کربښه به نه وي په ژوندون کې
زما او ستا په منځ کې نه به وي تارونه
په یو ګل باندې چا جوړ کړل بهارونه؟
راځه یو شو!
نیم به زه شم، نیم به ته شې
بیا به واخلو له یو بل نه الهامونه
سوله ژوند ده!
بې مفهومه کرکېچونه
د اېرو غوندې به پورته شي بادونه
شخړې نوم به محبت باندې بدلېږي
نور به څه وي؟
د ژوندون ترجماني ده
او د زړونو پادشاهي ده

## لنډۍ

پاس پر اوړو دې منګی مات شه
چې د سینې په خوږ دې راشي سېلابونه

پاس پر بام مه خېژه کوترې
پورته آسمان کې به زېړ لمر شرمنده شینه

پاس په کمره ولاړه ګله
نصیب د چا یې اوبه زه درخېژومه

پاس د آسمان ستورو ته ګوره
په تا مې دومره دې د سپینې خولې پورونه

پاس په هوا راشه جانانه
لارې کوڅې له غمازانو ډکې دینه

پاس په آسمان کې ستورې ښکارې
آشنا ویده دی ما یې وکړل دیدنونه

پاس په بلۍ کوترې راغلې
زه په پوړو د یار پوښتنه ترې کومه

پاس په بنګله کې فریاد خېژي
یا رنځوران دي یا مین بېل شوي دینه

پاس په سینه ځای راته جوړ که
مزل وهلې زمکه ځای نه راکوینه

پاس په ګودر د پېغلو جنګ شو
د سور سالو مېرمنې ماتې ګړوینه

پاس په هوا راشه جانانه
دا کوزې لارې بېلتانه نیولې دینه

# مریدنامه

◆ **لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال**

**لومړی برخه:** سادو د وران شوي ښار پر یوه زاړه برج ختلی و او د خپل ښار د زړو ویاړونو ترانه یې په خپل زیره غږ کې سندره کړې وه، سادو ویل : نیکونو مې له چنگېزه تر انگریزه ټول وهلي دي زما ښار د ویاړونو ښار دی، دلته هر دوښمن مات شوی او دا ښار د یرغلگرو هدیره ده ....

سادو لگیا و او د ویاړ بدلې یې ویلې، ښاریانو ته دا بدلې سولېدلې او بېخونده وې، چا سادو ته یوه سکه هم نه ورکوله، مرید ورته پښنه نیولی شو، خو ببرسري په یوه ترخه موسکا تري تېر شو او مرید ته یې وویل : اوړده لاره په مخکې ده، خپلې راټلونکې ته په پام مخکې ځه او شا ته مه گوره !

مرید وپوښتل :

**مگر زاړه ویاړونه ؟ ...** ببر سري وویل : دا ټولې د نن او سبا د بېوزلی او حقارت عُقدې دي، چې ناري وهي. که د هدیره شوي ښار ښاریان د خپل ښار دننه جگړه ویاړ گڼي نو هغه دوښمن چې د خپلو گټو لپاره له اوو سیندونو او اوو غرونو را اوښتی او دلته جنگېده، دهغه ولس به ځان څومره لوی اتل گڼي؟

اتلواله دا ده چې ته د خپلو گټو لپاره په نورو سیمو کې وجنگېږې، نه دا چې خپل ښار د چا په هدیره بدل کړې. مرید گامونه چټک کړل او د سادو په بېخبری او بېوزلی یې زړه وخوږېد. ستړي ستومانه پر یوه زاړه ښار ورننوتل، د ښار دروازې پیره نه درلوده، هر څوک ښار ته ننوتلی شول.

ببرسري له کوښو څخه د لارې شگې وڅنډلې، یوځه وړاندې ولاړل، که څه گوري؛ د بنیادمانو سلاخي روانه ده او جلادان څوک سري توري او څوک تبره ساتولونه په لاس، لگیا دي د ښار د خلکو سرونه پرې کوي، ښاریان کتار کتار خپل وار ته په تمه ولاړ دي او جلادان ستړي ستومانه لگیادي، سرونه پرې کوي. له سلاخی څخه د وینو رود مخ په وچ سیند روان دي. ببر سري پیر کټ کټ وخندل، مرید حیران شو، ویې پوښت : خلک ولې سر وهلو ته په کتار کې ولاړ دي؟

**ببرسري ځواب ورکړ:** جلادانو دوی ته ویلي: خدای دښار جلادانو ته امر کړی، چې دخلکو سرونه پرې کړې او خلکو د جلادانو دا خبره منلې ده، چې گواکې د خدای حکم دی. دا خلک پر خدای نه ، بلکې پر خپلو جلادانو مومنان دي. د دوی ستونزه دا ده، چې په خپله دخدای فرمانونه نه شي لوستلای، یا نه شي پرې پوهېدلای، بلکې دوی د خدای احکام د جلادانو له ژبې اوري. د دې ښار خلک په دې نه پوهېږي، چې خدای د ( انسان ) قتل حرام کړی دی. ښاریان جلادان خپل مقدس مشران گڼي. مرید له سلاخی په منډه تېر شو، له ښاره ووت ، د سارا هوا یې کش کړه، خو د وینو بوی یې لا په سپږمو کې پاتې و. له کنډوه چې واوښتل، پراخه دښته په مخه ورغله، د دښتې په یوه اړخ کې د ویجاړو بانډو نښې لا پاتې وې، نوره دښته ټوله هدیره وه، وروستي مړي چا نه وو خښ کړي، هډونه یې پرزمکه پراته وو...

مرید پوښتنه وکړه : دا څوک دي ؟

ببرسری موسک شوک :

هغه قوم چې ووژل شو، خو راویښ نه شو.

د دوی له منځه یوځوغلو او وژونکیو د (عقیدو) بیرغونه راپورته کړل، ویې وژل او لوټ یې کړل. ځینې دخپتې له غمه په دوی پسې شول او نور چې ویده ول، په خیټورو پسې ورغلل. یوه ورځ ټول د زړو خوبونو د ښامارانو له ویرې دلته راغلل او مړه شول.

د ببرسري لمن د لارې په اغزیو کې ښخېږې شوه او له سوري څخه یې نری دوړه ووته .




# «بریالی کېدای شم» چاپېدل

◆ **راپور: محمد عزیز پردېس**

دغـه کتـاب د ښـاغلي محمـد نعیـم عطـارد لخوا د هېواد پـه دواړو رسـمي ژبـو (پښـتو او دري) لیـکل شـوی او تـازه پـه کابـل کـې پـه ښـکلي صحافـت سـره چاپ شـو.

پـه دې کتـاب کې تاسـو کولای شـئ ډېر شـمېر هغه (کولای شم) ولولـئ چـې مخکـې مـو پـه خپـل زړه او ذهـن کـې درلـودل څو پر مـټ یـې د پرمختـگ او پوهېدلـو لپـاره له خنډونـو او لـوړو ژورو یوه خلاصـه لاره جـوړه کـړو؛ خـو تـر دې مهالـه مـو جرئت او وړتیـا نـه درلوده.

د کتـاب لیکـوال ښـاغلي محمـد نعیـم عطـارد لـه ۸صبـح پښـتو مجلـې سـره پـه خبـرو کـې، د دې کتـاپ پـه اړه داسـې وویـل: «پـه ژونـد کـې پرلپسـې ماتـې، لـوړې ژورې، د اړتیـاوو او هیلـو نـه پـوره کېـدل، پـر ځـان بانـدې د بـاور نـه درلـودل، نامناسـبه دنده، د ټولنـې لـه سـتونزو سـره تحصیلـي رشـتې نامناسـب والـی او گڼ شـمېر نورې سـتونزې او ناخوالې هغه عوامل دي چې د یو شـخص لپـاره د درونـي ځـور، غم او لسـگونه نـورو سـتونزو د رامنځته کېدو لامـل کېـدای شـي. کـوم وگـړي چـې ډېـر کلـه نـور خلـک د خپلو ماتـو لامـل بولي، معمولاً هغه کسـان دي چـې د بریالیتوب د لارې پیداکـول ورتـه ډېـر سـخت او ان ناشـوني ښـکاري! پـه دې کتـاب کـې دې او دې تـه ورتـه نورو ډېرو سـتونزو ته د حـل ډېرې معقولې لارې چـارې وړانـدې شـوې دي».

دا ؤ د لیکـوال نظـر، اوس تاسـو کـولای شـئ، د کتـاب پـه لوسـتلو سـره، خپـل نظـر او جـاج ولرئ!

# د کورونا مدیریت؛ د ولسمشر لومړیتوب



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ ژباړه: م. ظریف صمیم

په افغانستان او سیمه کې د کورونا ویروس د پراختیا په اړه د راپوټونو او له دې امله د تلفاتو له زیاتوالي وروسته، ولسمشر غني ددغه ویروس د دوهمې څپې د مدیریت لپاره چمتووالي ته ډېر پام کړی دی.

له کورونا ویروس سره مبارزه او د ناوړه پایلو مخنیوی د افغان حکومت لومړیتوب ګڼل کېږي.

ولسمشر محمد اشرف غني د لیندۍ د ۱۴مه تر ماښانه د کورونا ویروس له دوهمې څپې سره د مبارزې او د پایلو د مخنیوي د لاروچارو د ارزولو په موخه، اته ناستې لرلې او له کورونا ویروس سره د مبارزې په اړه یې د ملګروملتونو د عمومي اسمبلې له ناستې سره خپل نظریات شریک کړل.

ولسمشر باوري دی چې ستونزې باید په هغو اصلي برخو کې چې خلکو ته خدمات رسوي، ولټول شي. له همدې امله نوموړی په خپله کله کله د عامه خدماتو له کارکوونکو او امنیتي ځواکونو سره خبرې کوي او یا یې د کار له ځایونو لیدنه کوي.

په دې لړ کې ولسمشر له افغان جاپان روغتون څخه لیدنه وکړه چې په کابل کې د کووېد نولس ناروغانو د درملنې اصلي مرکز دی. د ولسمشر غني موخه دا وه چې په مستقیمه توګه ستونزې وویني او د اوارولو لپاره یې عملي ګامونه پورته شي.

**ولسمشر تېره اونۍ د ولایتونو د روغتیا له رئیسانو، او د مرکزي او حوزوي روغتونونو له چارواکو سره آنلاین او حضوري ناستې لرلې. همدارا ز ولسمشر په دې اړه د ستونزو، وړاندیزونو او نظریاتو په سلګونه پاڼې وارزولې.**

د ولسمشر ارزونو وښودله چې هېوادوالو ته د وړیا خدماتو وړاندې کول چې په اساسي قانون کې لیکل شوي ډېری روغتونونه یې جدي بودیجوي ستونزو سره مخ کړي دي. یو شمېر روغتونونه د مالي لګښتونو د نشتوالي له امله آن د تړل کېدو له خطر سره مخامخ شوي دي.

ددې ترڅنګ ډېری روغتونونه د ګمارنو او د مالي لګښتونو په برخو کې د صلاحیتونو له محدودیت سره مخامخ دي.

د ولسمشر د ارزونې له مخې، د ډېری روغتونونو د بودیجې وړاندیزونه د عامې روغتیا وزارت له خوا نه دي منل شوي. څېړنې ښیي چې د اکسیجن د تولید او کورونا د دوهمې څپې د مدیریت لپاره د ډېری دولتي روغتونونو د چمتووالي اقدامات ډېر کمزوري دي.

که څه هم د کورونا ویروس دوهمه څپه په خپرېدو ده؛ خو د تېرو لسو میاشتو ستونزې باید اواري شوي وای چې په روغتونونو کې د اکسیجن نشتوالي ستونزه یې یوه بېلګه ده.

څېړنو ښودلې چې د کورونا ویروس د لومړۍ څپې پرمهال مرستندویه موسسې د افغانستان د روغتونونو لپاره د اړتیا وړ اکسیجن په برابرولو نه دي بریالۍ شوې.

په ولایتونو کې روغتونونه د بودیجې په مصرف کې له پراخو ستونزو سره مخامخ دي. د روغتیایي خدماتو لپاره په بیړنۍ حالت کې په بیړه تصمیم نشي نیولی. د ولایتونو روغتیایي چارواکي د واک له نشتوالي شکایت لري.

**د ستونزو د حل لپاره اقدامات**

ولسمشر غني د قضاییه قوې او لویې څارنوالۍ له چارواکو سره کتلي چې په بیړنیو حالاتو کې چارواکو ته د واکونو د ورکولو قانوني معیارونه روښانه کړي. عدلي او قضایي کمېټې ته یوه اونۍ وخت ورکړ شوی چې په بیړنیو حالاتو کې د ستونزو د اواري لپاره قانوني حل لارې ولټوي.

له دې سره په یو وخت په دغه مقرره کې د ولایتونو روغتیایي چارواکو ته واک ورکړل شي چې په ولایتونو کې د روغتونونو چارواکي د مسوولیت ترڅنګ د تدارکاتو عمومي واک هم ولري.

په مرکز او ولایتونو کې د روغتیایي مرکزونو د فعالیتونو د همغږۍ سیستم د جوړولو حکم ورکړ شو او له هېواده بهر د روغتیایي متخصصینو د همکارۍ د میکانیزم برابرولو لپاره طبي عالي شورا ته دنده وسپارل شوه.

په همدې توګه په **هغه ناسته کې چې ولسمشر د یونیسف، نړیوال بانک او د آسیا د پراختیایي بانک له چارواکو سره لرله ددغو بنسټونو له خوا له افغانستان سره نوې ژمنې اعلان شوې.**

د نړیوال بانک او د آسیا د پراختیایي بانک چارواکو د کورونا د دوهمې څپې د مدیریت په اړه د کورونا ویروس د واکسین په برخه کې د مالي ملاتړ لپاره د نړیوالې ټولنې د ژمنې خبر ورکړ. ټاکل شوې د کورونا ویروس له دوهمې څپې سره د مبارزې په لومړي پړاو کې به په افغانستان کې د واکسینو له ۲۰ تر ۴۰ سلنه لومړني پروګرامونه عملي شي.

# افغانستان
## او کورونا ویروس

◆ لیکنه: غلام دستگیر نظري
◆ ژباړه: م. ظریف صمیم

د کورونا ویروس لـه خپرېدو کابـو دیارلس میاشـتې کېږي، دغـه ویروس پـه ټولـه نړۍ کـې د ژوندانـه بهیر گـډوډ کړ او د نـړۍ اقتصاد تـه یـې لـوی گـوذار ورکړ.

تراوسـه پـه ټولـه نـړۍ کـې کابـو ٦٧ میلیونـه وگړي پـه کورونا ویروس اختـه شـوي، چـې لـه هغـې ډلـې یې یونیـم میلیـون وگـړي وژلـي دي. لـه همـدې املـه د طبـي علومـو پوهانو لـه دغـه وژونکي ویـروس څخه د بشـر د ژغورلـو لپـاره ددې ویـروس لـه خپرېـدو د کال په پـوره کېدو، ددې ویـروس واکسـین جـوړ کـړي دي.

هغـه واکسـینونه چـې د نـړۍ د هېوادونـو پـه لابراتوارونـو کـې برابر شـوي، دربیـو دغـو واکسـینونو تر ٩٦ سـلنې پورې مثبتـې پایلـې لرلې دي. **دا واکسین د فایزر، بیوتک او مدرنا شرکتونو له خوا جوړ شوي چې ټاکل شوي ډېر زر په ټوله نړۍ کې تطبیق شي.**

اوس دا اندېښـنه شـته چې د افغانسـتان په شـان بېوزله هېواد ښـایي تـر کلونـو د کورونـا ویـروس برابـر نشـي کـړای؛ ځکـه د نـړۍ شـتمنو هېوادونـو لـه وړانـدې ددغـه واکسـین د پیرلـو وړاندیزونـه کـړي دي.

خـو پـه دې اړه باید وواېـو چـې د کورونا ویروس لـه خپرېدو وروسـته، د نړیـوال ایتـلاف لخـوا د واکسـین د برابرولـو لپاره یو بنسـټ جوړ شـو او موخـه یـې دغـو واکسـینونو ته د لاسرسـي لپاره، د عادلانه لاسرسـي د آسـانتیاوو د رامنځتـه کول دي. ټاکل شـوې پـه ۲۰۲۱ میلادي کال کـې د نـړۍ کابـو شـل سـلنه وگـړي لـه دغـه واکسـین څخـه برخمـن شـي. دا ایتـلاف پـه لومـړي گام کـې د افغانسـتان پـه گـډون د نـړۍ بېوزلـه هېوادونـه تر پوښـښ لانـدې راولي.

**کواکس بنسـټ بـه شـل سـلنه افغانانو تـه په وړیا توگـه د کورونا ویـروس واکسـین د دولـت پـه واک کـې ورکړي.** خـو ټولـو وگـړو ته د واکسـین د برابرولـو لپاره دولـت بایـد د هغـه لگښـت ورکـړي. ویـل کېږي چـې د نـړۍ لابراتوارونـه د کال پـه لومړیـو دربیـو میاشـتو کـې، کابـو پنځـه میلیون دوزه واکسـین برابرولی شـي. خو بایـد وواېو چـې د هغـو لابراتوارونـو شـمېر ډېر زیـات دی چې دغه واکسـین چمتو کوي.

بلـه مسـله، پـه افغانسـتان کـې د واکسـین د سـاتلو لپـاره د مناسـبو وسـایلو نشـتوالی دی. دا اندېښـنه آن د افغانسـتان د عامـې روغتیا وزارت لـه مشـرتابه سـره پـه کتنـه کـې د ولسمشـر پـه وینـا کـې هـم جوتـه شـوه. کـه څـه هم افغانسـتان پـه ۲۰۰۹ کال کې د واکسـین د سـاتلو د مدیریت پـه برخـه کـې، د GAVI بنسـټ لـه خوا سـتاینلیک هـم ترلاسـه کړ.

د کورونا واکسـین د سـانتي گـراد پـه منفـي اویـا درجـه کـې سـاتل کېږي پـه داسـې حـال کې چې په افغانسـتان کې د سـړولو سیستم تـر منفـي شـل درجـې پـورې دی.

خـو یـوازې د فایـزر شـرکت واکسـین د سـانتي گـراد پـه منفـي اویـا درجـه کـې سـاتل کېـږي، پـه داسـې حـال کـې چـې د مدرنـا شـرکت واکسـین لـه منفـي شـل درجـې ښـکته درجـه کـې سـاتل کېـږي او د آکسـفورد شـرکت هـم د سـانتي گـراد لـه دوو تـر اتـو درجـو سـاتل کېږي. لـه دې املـه **افغانسـتان د کورونـا واکسـین د سـاتلو لپـاره هېـڅ سـتونزه نـه لـري.**

**د شـل سـلنه افغانانـو لپـاره د کورونا واکسـین د لومړیتـوب لپاره دولـت ډلبنـدي برابره کـړې ده:**

- **د خصوصـي او دولتـي برخـو ټـول روغتیایـي کارکوونکـي چـې کابـو سـل زره تنـه کېـږي؛**
- **د دولتـي او خصوصـي ښـوونځیو ټـول ښـوونکي چـې کابو ۴۰۰ زره تنـه دي؛**
- **د هېواد امنیتي او دفاعي ځواکونه چې کابو ۴۰۰ زره کېږي؛**
- **لـه ۵۰ کلنـۍ لـوړ عمـر لرونکـي او هغـه وگـړي چـې سـختې ناروغـۍ لـري؛**
- **کوچیان، راستانه شوي او کډوال؛**
- **دولتي کارکوونکي.**

دولتـي چارواکـو ویلـي چـې د همـدې ډلبندۍ له مخې به د واکسـینو پروگـرام پیلـوي او هیلـه یـې څرگنـده کـړې چـې خلـک د اړتیـا او لومړیتـوب لـه مخـې لـه روغتیایـي ډلـو سـره همکاري وکـړي.



# د بېوزلۍ کچه ٦ سلنه کمه شوې!



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

د احصایې او مالوماتو ملي اداره وايي: « که څه هم کورونا ویروس ډېری هېوادونه له اقتصادي پلوه ځپلي، خو د هېواد اقتصادي وضعیت ښه شوی دی.»

دا اداره زیاتوي چې د کورونا ویروس له امله لګول شویو محدودیتونو سره سره، په افغانستان کې د سږ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، د بېوزلۍ کچه شپږ سلنه کمه شوې ده. دغې ادارې د دوشنبې په ورځ په دې اړه د خپلو څېړنو پایلې له خلکو سره شریکې کړې.

دا څېړنه د نړیوال بانک، یونیسف او خوړو د نړیوال سازمان په تخنیکي مرسته، د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې له ۱۳۷ تنو سره د خبرو پر بنسټ چمتو شوې ده.

**ددې څېړنې له مخې، په افغانستان کې بېوزلي، وزګارتیا او د ماشومانو درانه کارونه کم شوي او د ځوانانو او ډېر عمر لرونکو د سواد د زده کړې کچه لوړه شوې ده.**

ددغې ادارې رئیس احمد جاوید رسولي خبریالانو ته وویل چې کورونا ویروس صنعتي هېوادونو ته ډېر زیان رسولی، خو دا چې افغانستان صنعتي هېواد نه دی، ډېر زیان یې هم نه دی لیدلی.

د افغانستان د احصایې او مالوماتو ادارې د شمېرو پر بنسټ، د تلې تر میاشتې په هېواد کې د بېوزلۍ کچه شپږ سلنه کمه شوې ده.

**د دې ادارې د مالوماتو له مخې: د بېوزلۍ کچه په دې موده کې له ۵۳ څخه ۴۷ سلنې ته را کمه شوې ده.**

دا شمېرې ښيي چې په تېرو ۱۳ کلونو کې د افغانستان اقتصادي وده مخ په ښه کېدو ده.

**ددې ادارې شمېرې ښيي چې په روان کال کې د وزګارتیا کچه هم له ۴۴ سلنې ۳۷ ته را ټیټه شوې ده.**

**له بلې خوا د احصاییې او مالوماتو د ملي ادارې د څېړنو له مخې، کابو نیمایي افغان وګړي د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي. سربېره پر دې ۳۷ سلنه خلک خوراکي خوندیتوب نه لري.**

دا په داسې حال کې دي چې د شمېرو پر بنسټ، ۲۳ اعشاریه نهه سلنه نارینه او ۱۸ اعشاریه شپږ سلنه ښځې وزګارې دي او د وزګارۍ کچه په معمول ډول د ژمي په موسم کې لوړې کچې ته رسېږي.

ددغې ادارې د سروې له مخې، د افغانستان د کار بازار نامنظم، غیررسمي او ناقانونه دی. په روان کال کې ۱۵اعشاریه دوه سلنه نارینه او ۳۲ سلنه ښځې وزګارې دي چې ټول شمېر یې ۱۸ اعشاریه شپږ سلنه دی په داسې حال کې چې پنځه کاله مخکې دا شمېر ۲۳ اعشاریه نهه سلنې ته رسېده. په دې توګه څېړنه ښيي چې د وزګارۍ سلنه د ۱۳۹۵ کال په پرتله کمه شوې ده.

**ددغې سروې له مخې، کابو نیمایي افغان ځوانان نالوستي دي، په دې توګه چې ۵۴ سلنه ځوانان کافي سواد نه لري چې ٦۸ اعشاریه اته سلنه هلکان او ۴۰ اعشاریه یو سلنه نجونې دي.**

خو له دې مخکې د افغانستان ډېری عاید لرونکو بنسټونو ویلي و چې د کورونا ویروس له امله یې عواید تر ډېره کم شوي دي.

# د کندهار په درېیو ولسوالیو کې د خرما باغونه جوړېږي

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ احمد شاه شاداب ـ کندهار

له هلمند وروسته، تازه د کندهار په درېیو ولسوالیو، دامان، ډنډ او پنجوائي کې، د خرما د حاصلاتو د ترلاسه کولو په موخه، پر ۲۵ جرېبه زمکه، د خرما بڼونو د جوړولو چاري پیل شوې دي.

ددغې پروژې ټولي چاري، د کرنې وزارت لخوا پر مخ بیول کېږي او دوه میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي.

د کندهار د کرنې او مالدارۍ رئیس سید حفظ الله سیدي وایي چې د کوکنارو د بدیلو کښتونو په لړ کې تمه لري، چې د خرما له ازمایښتي بڼونو ښه پایله ترلاسه کړي.

سیدي وایي چې د کندهار اوبه او هوا د ایران سیستان او نورو هغو سیمو سره چې خرما پکې ښه حاصل ورکوي، ورته والی لري؛ نو اړینه یې وبلله چې د کندهار په دامان ولسوالۍ کې هم د خرما بڼونه جوړ کړي.

نوموړی زیاتوي چې دغو بڼونو په هلمند کې ښه نتیجه ورکړې او اوس تمه لري چې په کندهار کې هم د خرما باغونه ښه حاصل ورکړي.

د کندهار د کرنې رئیس وایي هڅه کوي چې په کندهار کې د کرنیزو چارو د لاپیاوړتیا او د خلکو د اقتصاد د لوړولو په موخه نوي بوټي او کښتونه دود کړي.

سیدي وایي چې نوي اېښودل شوي نیالګي به تر راتلونکو پنځو کلونو پورې په حاصل راشي او که یې پایله مثبته وه؛ نو پراختیا به ورکړي.

د کندهار په دامان ولسوالۍ کې بزګران وایي چې د خرما بڼونو په جوړولو خوښ دي او وایي چې ورځ تر بلې د کرنې په برخه کې پرمختګونه کېږي چې په خبره یې دا د کندهار او ټول هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره ښه زېری دی .

هغوی وایي: په هلمند کې د خرما بڼونو ښه نتیجه ورکړې او د کندهار اب و هوا هم د خرما د حاصلاتو لپاره مناسبه ده.

دغه بزګران زیاتوي چې افغان دولت او په خاص ډول د کرنې چارواکي باید د نورو مېوو د دودولو لپاره هم بزګرانو او بڼوالو ته امکانات برابر کړي.

د کرنې برخې کار پوهان وایي د کندهار د کرنې په برخه کې پرمختګونو ته باید لا زیات پام وشي او د کرنې برخې چارواکي باید ددې ولایت د مځکنیو او دودو حلالو کښتونو د ودې لپاره هم کار وکړي.

هغوی وایي چې په دې ورستیو کې لیدل کېږي چې د کندهار د انګورو ، انارو، انځرو، خټکیو او نور مېوو حاصلات د ځینې طبعي امراضو له امله کم شوي، چې د کرنې ریاست او په دې برخه کې مرستندویه ادارو یې په اړه کوم اقدام نه دی کړی.





# په پکتیا کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي دوام

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د پکتیا ولایت په لرو پرتو سیمو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی لاهم دوام لري او په دې برخه کې د زور زیاتي پېښې ورځ تر بلې په زیاتېدو دي.

د پکتیا استیناف محکمې په علني غونډه کې، د سید رحیم زوی محمد رحیم ته د ۲۵ کلونو بند سزا واورول شوه، چې د خپلې نګور په زندۍ کولو او وژلو تورن دی.

خو د پېښې په اړه تورن بیا دغه ادعاوې ردوي او ځان بېګناه بولي. د پېښې په اړه موظفې څارنوالۍ خپله ترتیب شوې اعتراضه، دلایل او شواهد قضایي پلاوي ته وړاندې کړل.

د تورن وګړي مدافع وکیل هم د پېښې په اړه خپله دفاعیه ولوسته او محمد رحیم چې د خپلې نګور په وژلو تورن دی وایي نوموړې ددغې مېرمنې په وژلو کې لاس نلري او په وینا یې هغې خپله ځانوژنه کړې!

د پکتیا ولایت د استیناف د محاکمو رئیس ،حبیب الله منیب، په دغه علني غونډه کې وویل چې ددې پېښې له څېړلو وروسته، تورن ته د شواهدو او مدارکو پربنسټ، د بند سزا اورول کېږي.

د وژل شوې مېرمنې پلار پخپلو خبرو کې وویل «څو څو ځله د سېمې د خلکو لخوا په دې اړه پرېکړې شوې دي» هغه زیاتوي چې لور یې د خاوند خسر او خواښې له لوري، په بېرحمۍ سره وژل شوې او درې ورځې یې مړی پټ ساتل شوی ؤ.

د پکتیا والي محمد حلیم فدایي وایي چې اوسمهال پر عدلي او قضایي ادارو ،د خلکو باورمندي زیاته شوې ده.

د یادولو ده چې دا قطعي او وروستۍ پرېکړه نه ده. تورن کولای شي استیناف محکمې ته مراجعه وکړي.

# په ننگرهار کې مېرمنو ته د پورونو ورکړه



**حفیظ الله علي خیل**

په ننگرهار ولایت کې، ۸۰۰ مېرمنو ته، د کوچنیو سوداګریزو کارونو لپاره، لنډ مهاله پورونه ورکول کیږي.

دغه پورونه د کلیو پراختیا وزارت له خوا ورکول کیږي چې موخه یې د ښځو اقتصادي پیاوړتیا ده.

مسوولین وایي چې د ننگرهار په شپږو ولسوالیو کې، مېرمنې د ځانګړو ټولنو په جوړولو پور ترلاسه کوي او بیا د خپلې خوښې کار پیلوي، چې ډېری یې د لاسي صنایعو په برخه کې پر کارونو بوختې دي.

د لاسي صنایعو په چاره بوختې مېرمنې وایي چې په دې پروګرام سره یې، د کورنۍ په اقتصاد کې د پام وړ ښه والی راغلی دی.

د ننگرهار د بهسودو ولسوالۍ اوسېدونکې سمینه چې د یوې ټولنې مشري کوي، وایي چې په لسو ګروپونو کې کابو۱۰۰ تنه کار کوي، چې ۸۰ سلنه یې مېرمنې دي.

نومړې د کلیو پراختیا وزارت پور ترلاسه کړی او اوس یې په کور کې د لاسي صنعت کوچنی کاروبار پیل کړی دی.

چارواکي وایي چې د کلیوالي سیمو د مېرمنو د اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له لارې په ننگرهار کې ۸۰۰ داسې مېرمنې شته چې د کوچنیو پورونو په ترلاسه کولو د لاسي صنایعو په برخه کې د کار زمینه برابره وبرابره شوې ده.

ددغه پروګرام چارواکي وایي، غواړي چې دا پروګرام د ننگرهار نورو ولسوالیو ته هم وغځوي چې سلګونه نورو مېرمنو ته هم د کار او اقتصادي فعالیت زمینه برابره شي.

دوی وایي چې د مېرمنو د اقتصادي پیاوړتیا سره به نه یوازې د خپلو کورنیو په اقتصادي پیاوړتیا کې ونډه اخلي؛ بلکې د کورنیو تولیداتو کچه هم ورسره لوړېږي چې دا کار د بهرنیو توکو په مخنیوي کې هم رول لوبولی شي.

# د دوی کیسې
# د دوی ننګونې
# د دوی ژوند

◆ فرانک عمیدي
◆ د بي بي سي نړیوال سرویس د ښځو چارو خبریاله

په کابل کې د یو سینګارتون څښتنه نسرین وايي: «دوه درې میاشتې زموږ کارونه بند وو. ډېرې ستونزې وې، د بېلګې په توګه له دې حالت سره سره مو هم باید کرایه ورکړې وای. پخوا مې هره میاشت شاوخوا اتیا زره افغانۍ ګټلې. اوس لس زره هم نشم پیدا کولی».

موږ د نسرین له همدې کیسې سره د بي بي سي پښتو انسټګرام پاڼه په نوي بڼه را معرفي کړه. دا پاڼه اوس هغو مسئلو ته پام کوي چې د مېرمنو له ستونزو سره تړلې دي، او له دې لارې د مېرمنو اړوند خبرونه، مالومات، ښوونیز او تفریحي رپوټونه خپروي. دې پاڼه کې به همدا راز هغه ننګونې هم په ګوته کېږي چې مېرمنې د ژوند په بېلابېلو برخو کې ورسره لاس او ګرېوان دي.

ما په لندن او کابل کې د خپلو همکارانو سره په یوه داسې ډله کې کار وکړ چې ټولې ګډونوالې یې مېرمنې وې، او غوښتل مو دا ډاډ ترلاسه کړو چې د بي بي سي پښتو انسټګرام پاڼه پښتنو مېرمنو لا ګټوره تمامه شي. موږ غوښتل دوی ته پر انسټګرام یو کوچنی خوندي چاپېریال برابر کړو، داسې یو چاپېریال چې پکې د هرې مېرمنې، پرته له دې چې ټولنیز حیثیت یا د زدکړو کچه یې مطرح وي، استازیتوب یې وشي، غږ یې واورېدل شي او الهام واخلي. که د نسرین کیسه وي، او که په دې اړه یو ګرافیک وي چې اوښېزم څه دی او څه ډول ورسره ژوند کولی شي – موږ به پر هره هغه موضوع خبرې کوو چې په افغانستان او نړۍ کې پښتنو مېرمنو ته مهمه ده. موږ غواړو چې د بي بي سي پښتو انسټګرام پاڼه د پوهې او مرستې یوه باوري سرچینه وي.

د خواله رسنیو شبکې له انټرنټ لېرې زموږ د عادي چاپېریال ښاخونه دي. ځینې هغه اصول او محدودیتونه چې ښځې ورسره مخ دي، پر انټرنټ هم شته او خواله رسنیو کې هم کتل کېږي. جنسي ځورونه او ځینې کلتوري دودونه د دې سبب کېږي چې مېرمنې پر خواله رسنیو هم غلې پاتې شي. نو یوه ننګونه پر دې خبره ځان پوهول دي چې مېرمنې زموږ د رپوټونو او مطالبو په اړه څه فکر کوي، او پر کومو مسئلو غواړي چې موږ تمرکز وکړو. که پر دې خبره پوه شو نو یو خراب دود به مو مات کړی وي. هغه دود دا دی چې که د مېرمنو لپاره کافي مناسب مطالب ونلرو نو دوی له موږ نورې هم لېرې کېږي.

د دې ستونزې د حل لپاره مې د «راځئ خبرې وکړو» تر سرلیک





لانـدې د بـي بـي سـي فارسـي پـر انسـټگرام پاڼـه یـوه پـروژه پیـل کـړه. مېرمنـې عمومـاً انسـټګرام ډېـر کاروي، او ددې پـروژې یـوه موخـه دا وه چـې فارسـي ژبـې مېرمنـې لـه مـوږ سـره او همـدا راز خپلـو منځـو کـې خبـرې وکـړي. غوښـتل مـو دوی پـر جنسـي مسـلو، د مېرمنـو روغتيـا، او دا چـې ایـا د کـور کار ریښـتیا هـم کار دی، او داسـې نـورو موضوعاتـو وغږېـږي. هـره اوونـۍ بـه مو پر یـوه پوسـټکارډ لنـډه او مالوماتـي لیکنه کولـه، او لـه کتونکـو بـه مـو غوښـتل چـې خپـل نظرونـه راسـره شـریک کـړي. ددې لپـاره چـې مېرمنـې د بـکارت، د بکارت د پـردې پر بیا رغولو یـا د تیونـو جراحـۍ په څېر پر ځینو حساسـو موضوعاتو پـه ازادۍ خپل نظرونـه شـریکو کـړي، دا اړینـه وه چـې پـر پوسـټونو کامنټونـه پـه ډېـر دقـت سـره وڅـارو. بلکـې لـه یو پوسـټ کولـو وروسـته په لومړي سـاعت کـې د کامنټونـو څـارل خـورا اړیـن دي، ځکـه همـدا د پیـل کامنټونـه د وروسـته بحـث څرنګوالـی ټاکي. که ریښـتیا غـواړئ چې پر خواله رسـنیو مېرمنـو تـه غـوږ شـئ او خبـرو تـه یـې وهڅـوئ نـو بایـد چـې کامنټونـه وڅـارئ او ډاډ ترلاسـه کـړئ چـې ځورونـه او سـپکاوی پکـې نشـته.

دې ټـول کار ښـه پایلـه درلـوده او زمـوږ پـر پوسـټونو ډېـر تـاوده بحثونـه وشـول. د خلکـو نظرونـو اوربـدو دا ګټـه وکـړه چې موږ ته یـې د «راځئ خبـرې وکـړو!» پـروژې لپـاره نـوي موضوعـات را په ګوتـه کړل.

د هغـې پـروژې بریـا ماتـه دا مفکـوره راکـړه چـې دا لـړۍ بایـد د بي بي سـي دري پـر فېسـبوک پاڼـه افغانو مېرمنو تـه هم وغځول شـي. دا ځل مـو پـر هـره موضـوع لـه فېسـبوکي پوسـټ وروسـته پـه سـټوډیو کـې له ځانګـړو مېلمنـو سـره بحثونـه هـم درلـودل. د پـروژې دې برخـه کـې مـو پـر ګڼـو موضوعاتـو کار وکـړ، لکه د ښـکلا معیار، تـر میندوارۍ وروسـته ژور خپـګان، مېنوپـاس او دا چـې له ماشـومانو د جنسـي مسـایلو په اړه څـه ډول مالومـات وپوهـول شـي. دې بحثونـو کـې د مېرمنو ګـډون راته وښـوده چـې کـه سـمه تـګلاره غـوره شـي او سـم مطالـب وړانـدې کـړل شـي نـو افغـان مېرمنـې راسـره ان پـر تابـو مسـلو هم خبـرې کوي.

کلـه مـو چـې د بـي بـي سـي پښـتو انسـټګرام پاڼـې تـه بڼـې بدلولو پریکـړه وکـړه نـو پـر دې مـو هـم غـور وکـړ چـې دا پاڼـه بایـد څـه ډول ښـکاره شـي، یا څه ډول تصویـري پېژندګولي ولري. بایـد دا پېژندګلوي افغانـي او سـیمه ییـز کلتـور سره سـمه وي. د منځپانګـې یـا مطالبو له پلـوه د بـي بـي سـي پښـتو انسـټګرام پاڼـه لـه داسـې مطالبـو ډکـه ده چـې د ټولنـې سـیمې مېرمنـو اړونـد دي. د لنـدن د ګوډمېـس روغتون کـې روانپوهـه ډاکټـر خورشـید تبسـم بـه هـره میاشـت د رواني ناروغیو پـه اړه د تشـریحاتو لـړۍ پیلـوي. مـوږ بـه د الهام بښـونکو مېرمنـو په اړه هـم مطالـب ولـرو، کـه هغـه متشـبثې وي، د تولیدوونکـې وي، ورزش کارې وي او یـا هـم فعالانـې، خـو چـې د مخکـې تـګ او بدلون راوسـتلو هڅـه کـوي. یـوه بلـه موضـوع چـې لوسـتې مېرمنـې بـه پـرې خپلـې تجربـې راسـره شـریکوي، د کار موندلـو په برخه کـې د دوی سـتونزې او ننګونـې دي. مـوږ غـواړو خلکـو تـه د هغـو مسـئلو پـه اړه پوهـاوی ورکـړو چـې ښـایي د دوی پـه کلتـور کـې پـرې ډېـرې خبـرې نـه کېـږي، او لـه همـدې کبلـه غـواړو داسـې کورنیو سـره خبـرې وکـړو چې کـوم غړی یې پـه اوتېزم اختـه وي.

مـوږ د اوږدو ویډیوګانـو پـر ځـای پـر انسـټګرام د سـاده عکسـونو پـه مرسـته غـواړو دا تشـریح کـړو چـې اوتېـزم څـه شـی دی. په افغانسـتان او سـیمه کـې دې برخه کـې د لوسـت لپـاره مواد موندل ګـران کار دی، او هـر څـوک اوږدې ویډیوګانـې هـم نشـي کتلـی. ګڼـې هغـه مېرمنـې چـې مـوږ ور رسـېدل غـواړو نالوسـتې دي. نـو ددې لپاره چـې دوی هم زمـوږ لـه مطالبـو ګټـه پورته کـړي، موږ ورتـه دا هر څـه په غږیـزه بڼه هم چمتـو کـوو.

زه پوهېـږم چـې مـوږ د انسـټګرام پـه څېـر د یـوې شـبکې لـه لارې د سـیمې ټولـو مېرمنـو تـه نشـو ور رسـېدلی. خـو هڅـه بـه کـوو چـې هـر څومره مېرمنو ته چې شـونې وي، ورسـېږو. موږ به د کابل د سـینګارتون څښـتنې نسـرین د کیسـې بیانولـو لپـاره لـه هغـو ټولـو تکتیکونـو ګټـه اخلـو چـې پـر انسـټګرام کارېـږي او مـوږ ورتـه لاسرسـی لـرو. دا د دوی کیسـې، د دوی ننګونـې او د دوی ژونـد دی.

# په ننگرهار کې د ۱۷ کلبونو ترمنځ ازادې رزمي سیالۍ ترسره شوې

◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

◆ **محمد عزیز پردېس**

دغه سیالۍ چې لسگونه لوبغاړو پکې برخه اخستې وه موخه يې په هيواد کې تل پاتې سوله او د لوبغاړو وړتياوو معلومول ؤ.

دغه د فري فايټ يا ازادې رزمي سيالۍ د سولې تر عنوان لاندې په جلال اباد ښار کې د ۱۷ کلبونو ترمنځ ترسره شو چې ۵۰ لوبغاړو پکې برخه اخيستې وه.

د يادو سياليو گډونوالو لوبغاړو له ښکېلو خواوو څخه د اوربند غوښتونکي شوه. دوی ووېل، چې ورزشکاران د سولې سفيران دي نو په همدې اساس له د جگړې له ښکېلو خواوو غواړو چې نور دې له جگړې او تاوتريخوالي لاس واخلي ترڅو کړېدلي ولس د ارام ساه واخلي او نوی نسل مو له تاوتريخوالي لرې تعليم او ورزش وکړي.

د لوبو سمبالوونکي وايي، د لوبغاړو تر منځ د سياليو تر سره کولو څخه يې هدف د لوبغاړو وړتياوو معلومول دي.





## د اس ځغلولو سيالۍ د بغلان ولايت په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې

په دغو سياليو کې ۳۲ لوبغاړو د هېواد له گوټ گوټ څخه گډون درلود چې تر ۱۰ غوره ځېرې د هېواد د اس ځغلولو ملي لوبډلې ته غوره شوې. هېره دې نه وي چې نورستان او لغمان په دې سياليو کې دويم او درېيم مقامونه وگټل.

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.















**افغانستان د عجایبو ملک،**
**په یوه وخت کې د ښوونځیو هم (کر) او هم (لو) روان دی!**
**او اوس ماشومان نه پوهېږي، چې له ښوونځي جومات ته د هغوی سپارل، د څه شي کفاره ده!؟**

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope









**ترور، له یوې ماشې د انسان پر تن و روان ډزې دي.**
**د افغان انسان روان- تر جسم دمخه- ددغه دوزخ اور وهلی دی!!**
**تروریست، د خپل شیطاني ذات له شرمه، په پټ مخ د ژوند پر ګلانو (لو) ګډ کړی؛**
**ځوان سیاوش را ولوېد، داعي هم دغې وبا وواهه او دادی ملاله میوند یې هم وویشته!**
**تېرو ۱۹ کلونو کې (۱۳۳) خبریالانو- د آزادي غړېدا په تور- ژوند له لاسه ورکړی!**

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.